# هیواد

ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز

**دوشنبه د جمادي الثاني ۵ مه ۱۴۴۵ ق کال** | د لینډی ۲۷ مه ۱۴۰۲ ل کال | د ډسمبر ۱۸ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۹۹ یمه | پرله‌پسې ګڼه ۲۸۹ یمه، اتمه دوره


### د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال:

## شته امنیت به د هیواد په پرمختګ کې مهم رول ولري

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند ، په کابل کې د هوايي چلند او ټرانسپورټ وزارت د څو پروژو په پرانیسته کې وویل، چې په ټول هیواد کې امنیت ټینګ شوی او دا به د هیواد په پرمختګ کې مهمه ونډه ولوبوي. نوموړي ویلي ،چې د امنیت په ټینګښت سره به نورې پانګونې هم په هیواد کې ترسره شي. ده د افغان حکومت له اړوندو ادارو وغوښتل ،چې د پانګوالو امنیت ته لا ځانګړی پام وکړي او هغوی ته نورې اسانتیاوې هم برابرې کړي.

### د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فرهنګي مرستیال:

## د وخت له غوښتنو سره سم د رسنیو اړتیاوې پوره کول د حکومت مسئولیت دی



کــه حکومت مطبوعاتو پــه ځانګړي ډول ورځپاڼو ته پاملرنه و نه کړي، دا به د سبا لپاره غټه ستونزه او نه بښه کېدونکې سرخوږی وي. دا خبره د دولتي ورځپاڼو رئیس مولوي محمد ابراهیم نبیل د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نشراتي معینیت له لوري د « هېوادنی ورځپاڼې او ژبې، شالید، پرمختګ، ننګوني او حللارې » تر عنوان لاندې رابلل شوې غونډه کې وکړه او ویې ویـل، چې ورځپاڼــې د ټولو داخلي مطبوعاتو د ملا تیر دی او حکومت ته پکار دي، چې د پیاوړتیا لپاره یې کار وکړي. د نبیل په باور، ښـکاري چې رسنیو د خپلو حقیقي موخو پر لور کوټلي ګامونه نه دي اخیستي، چې وکولـی شي د حقایقو د خپرولو پر مټ عامه افکار ورغـوي. ده وویل: پکار ده چې په رسـنیز او مطبوعاتي ډګر کـې د پردیو له لوري خپرېدونکو شـعارونو پسې لاړ نشو، د نوموړي پــه باور ځکه چــې هغوی دغه شعارونه د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره کاروي. د دولتـي ورځپاڼو رئیس نبیل د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: (( که څه هم د جمهوریت پر وخت له دومره پراخو امکاناتو او بهرنیو مرستو سره د ورځپاڼو چاپ له ۷۰۰ یا ۸۰۰ ګڼو څخه ندي اوښـتي خو د اسلامي امارت له حاکمېدو وروسته مورږ د ۱۰۰۰ ګڼو له چاپ کېدو پیل وکـړ.)) ده څرګنده کړه، چې په ولایتونو ـــ ۵مخ

### خلیفه سراج الدین حقانی:

## همکاری مردم با ادارات امنیتی بیشتر شده است

سرپرست وزارت امور داخله می گوید: همکاری مردم با ادارات



امنیتی بیشتر شده است.دفتر مطبوعاتی معاونیت سیاسی ریاست الوزراء، در خبرنامه‌یی گفته است: خلیفه سراج الدین حقانی این گفته ها را در دیدار با مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزراء بیان کرده است.حقانی تلاش‌های مسئولین امارت اسلامی را در عرصه سیاسی در کنار سایر بخش‌ها قابل ملاحظه خوانده و گفته است که اکنون همکاری مردم با دولت بیشتر شده است و با همکاری ــــ ۵مخ

## د کندهار له هوايي ډګر څخه الوتنې زیاتې شوې

د کندهار د احمدشاه بابا هوايي ډګر مسؤلین وايي، چې له دغه هوايي ډګر څخه د الوتنو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د مسؤلینو په خبره په یوه اوونۍ کې په اوسط ډول ۳۷ داخلي او



بهرني پروازونه ترسره کېږي، چې له یادو پروازونو څخه یې ۲۷ داخلي او لس بهرنیو هیوادونو ته ترسره کېږي. د کندهار هوايي ډګر رئیس وايي، چې د مسافرینو شمېر ورځ تر بلې زیاتېږي او زیات شمېر کسان غواړي، چې د هېواد دننه او یا هم بهر هېوادونو ته سفر وکړي. نوموړي ویلي، چې بهرني پروازونه یې دوبۍ، ایران، سعودي عربستان او یو شمېر نورو هېوادونو ته دي، چې په نږدې راتلونکي کې به هند ته هم له دغه هوايي ډګره الوتنې پیل شي.

## د قوشتیپې کانال شاوخوا ځمکو څخه د غوره ګټې اخیستنې په موخه غونډه شوې

د قوشتیپې کانال شاوخوا ځمکو څخه د غوره ګټې اخیستنې په پـار د مالیـې، اوبـو او انرژۍ، ښـار او کور جوړونـې، د چارو اداري او د ملي پراختیا شرکت د چارواکو په شتون کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په وزارت کې غونـډه شـوې.دغه غونډه د کرنې، اوبولګولـو او مالدارۍ د سرپرست وزیر مولوي عطاء الله عمـري په مـشرۍ او د کرنې او مالدارۍ وزارت مرستیال مولوي صدراعظم عثماني، د ځمکـو چارو لـوی رئیس مولوي محمود مظلوم، د کرنې وزارت د رئیسانو، سلاکارانو، د اوبولګولو، خاورې پېژندنـې او اقتصادي کارپوهانو او د مالیې، اوبو او انرژۍ، ښـار او کـور جوړونـې وزارتونو، د چـارو اداري او د مـلي پراختیا شرکت د اسـتازو په ګډون جوړه شـوې وه.غونډه کې د قوشتیپې



کانـال له اوبو څخـه د اغېزمنې استفادې د څرنګوالي په اړه خبرې اترې شوې ..د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیـر د دې غونډې موخـه د هېوادوالـو د منفعـت په پار د قوشـتیپې کانال څخه د غـوره ګټې اخیسـتنې په موخه د طرحـې جـوړول بللي.مولوي عطاءالله عمري ویلي؛ غونډه د دې لپاره جوړه شـوې ده، چې ټول په ګډه سلا مشـوري وکړو، ترڅو د قوشـتیپې کانال څخـه د ګټې اخیستنې په پار بشپړه طرحه جوړه شي، په دې طرح کې د کرنیزو، سـوداګریزو، صنعتي، مالدارۍ، ښوونې، کارخونو او هستوګنیزو سیمو د جلا کېدو۵مخ

## د فاریاب د مستوفیت عواید ۳۵ سلنه ډېر شوي

پـه فاریـاب کې د مسـتوفیت اداري مسئولینو د یاد ولایت د مستوفیت په عوایدو کې د ۳۵ سلنه د زیاتوالي خبر ورکـړی دی. د فاریاب د مسـتوفیت آمـر محمد اکبر عمـري ویلي، چې د ۱۴۰۱ کال په لومړیو اتو میاشـتو کې ۴۰۷ میلیونه ۴۵۱ زره ۸۷ افغانۍ عواید راټول شوي وو.

دا په داسـې حال کې ده ،چې د روان کال پــه تېرو اتــو میاشـتو کې ۵۵۱ میلیونــه ۸۵ زره ۷۱۷ افغانۍ وو ،چې دا د تېرکال په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالي ښي. د فاریاب د عوایدو د مستوفیت آمر د عوایدو د زیاتوالي لامل د عوایدو په راټولولو کې روڼتیا او د پاسپورت، احصایې او معلوماتو، سـوداګرۍ او صنایعـو او د ټرافیکـو مدیریتونو د عوایدو زیاتوالی وباله.

## نمایشگاه خدمات برتر ملی به پایان رسید

نمایشـگاه خدمـات برتـر ملـی کــه بــرای چهــار روز در قصر دارالامــان برگزار شــده بود، روز یکشنبه(۲۶ قوس) به پایان رسید.

این نمایشـگاه با ۲۵۰ غرفه برگزار شـده بود کـه ۱۰۰ غرفـه آن به زنان اختصاص یافته بــود.در این نمایشگاه صنایع دسـتی، تولیدات کارخانه‌ها، مواد خوراکی، ادویه، اشـیای تزئینی و نقاشی به نمایش گذاشـته شد.اشـتراک کنندگان زن این نمایشـگاه برگزاری چنین نمایشـگاه‌ها را بــرای افزایـش فروشـات و جذب مشـتری برای محصولات شان بسیار مؤثر دانسته و خواهــان اجــازه یافـتن عموم برای بازدید از چنین نمایشـگاه‌ها می‌باشند.اسـما نظـری، یکتن از غرفـه‌داران ایـن نمایشـگاه که لباس‌های افغانی دست دوزی شده را به نمایش گذاشته بود، گفت که



در چهار روز نمایشـگاه فروشات خوبی داشته اسـت.((امروز روز چهـارم نمایشـگاه اسـت، درکل نمایشـگاه خوبی بود. محصولات ما لباس‌های دست‌دوزی است که نسبت به دیگر لباس‌ها قیمتاش بالاتر اسـت، اما با آنهم فروشات داشتیم و فرمایشات ـــــ ص۵

## سمنګانو کې ۱۰۰ تنو ته د کار کولو زمینه برابره شوه

د سـمنګانو د کرنې ریاسـت د طبیعي سرچینو د تنظیم آمریت مسئولین وايي، چې دغه ولایت کې یې د لنډمهال لپاره سلو کسـانو ته د کار کولو زمینه برابره کړې ده.یادو کسـانو ته د ځنګلونو د احیا او ساتنې پروژې له‌خوا د پستې تخم د کرلو له لارې د کار کولو زمینه برابره شوې.د کرنې ریاست د طبیعي سرچینو د تنظیم آمر محمود صدیقي رسـنیو ته ویلي ،چې دغه پروژې د ایبکو د شلکتو کلي او د حضرت سـلطان ولسوالۍ کې پلې کېږي.

د پسـتې دغه تخمونه پـه ۲۲ هکتاره ځمکه باندې کرل کېږي، چې یوولس یې شلکتو کلي ــــ ۵مخ

### د هلـمند اوسېدونـکي:

## د برښـنا پرچوي زیاته شوې؛ د تلو او راتلو وخت یې هم نه دی معلوم

هلمند کې د رواني وچکالي له املـه د نورو اغېـزو ترڅنګ د کجکي برښـنا بنـد د اوبو کچه هم ټیټه شـوې چې ورسره دغه ولایت کې د برښنا پرچاوي ډېره شـوې.دغه ولایت کې ګڼشمېر صنعتـي کارخونې د کجکي بند له برښـنا ګټه اخلي، خو د برښنا د تولیـد کچې په ټیټېدو سره د یـادو کارخونو مسـؤلین وايي: ډېـر وخت د جنراتور پر مټ له برښنا اسـتفاده کوي.د لښکرګاه ښـارلوېدیځ ته په بولان دریمه حـوزه کـې د دانـه‌دارې پنبې د پروسس یوې کارخونې مسؤل عبدالغفار وايي : د برښنا د کمښت



له کبله یې کارخونه ډېر وخت پر ډیزلي برښنا چلېږي ، چې د تېلو د لوړې بيې لـه امله د ګټې پرځای تاوان ورته رسېږي.د نوموړي په وینا: که حکومت د کجکي بند برښنا ورته ۲۴ساعته کړي، په دې سره به یې د لګښتونو کچه راټیټه او د تولید کچه لوړه شي.نوموړي وویل: ((اکـثره وختونه مورږ د جنراتور له برښنا ـــــ ۵مخ

# تحریم و اعمال زور راه حل مشکلات نیست

امارت اسلامی افغانستان وضع تحریم‌ها در برابر حکومت سرپرست را به سود کشور و جهان نمی‌داند، بل بر ادامه تعامل و همکاری تاکید دارد.

شورای امنیت سازمان ملل، ماموریت گروه نظارت بر تحریم‌ها در برابر امارت اسلامی را برای یک سال دیگر تمدید کرد.

این اقدام شورای امنیت سازمان ملل آنهم در شرایطی که مردم افغانستان مشکلات تعریف شده و معین خود را دارند، یک حرکت توجیه ناپذیر است و نشان میدهد که شورای امنیت سازمان ملل متاثر از سیاست ها و راهکار دیکته شده شماری معینی از کشور هاست که سازمان ملل و نهاد های مربوط آن را ابزاری به کار می گیرند.

لیندا توماس گرینفیلد، نماینده امریکا در سازمان ملل متحد از ادامه تحریم‌ها علیه حکومت سرپرست در افغانستان پشتیبانی کرد و با برداشتی که خود دارد ادامه تحریم ها در برابر امارت اسلامی را برای صلح، ثبات و امنیت در کشور مفید دانسته است و همچنان گفته است، این گونه اقدام ها، امارت اسلامی در افغانستان را به تعهداتش پابند می کند.

مگر او نمی داند که با استقرار دو باره امارت اسلامی در افغانستان صلح و ثبات تامین شده است و سوالی مبنی بر بی ثباتی در افغانستان وجود ندارد و اگر حرف از پیگیری تعهدات امارت اسلامی است، امارت اسلامی به تعهدات خود در سطح ملی و بین المللی استوار است و پاره یی از مسایل که از سوی شماری از کشور ها با دید انتقادی دنبال می شود بیشتر مسایل داخلی افغانستان است و یا این که امارت اسلامی برای حل آن نیاز به زمان دارد.

گفته های این دیپلومات امریکایی نشان می دهد که او بیشتر تبلیغاتی حرف می زند و واقعیت را کتمان می کند و میان مقام های امریکایی هنوز هم دید کین توزانه نسبت به امارت اسلامی وجود دارد.

با تأسف او و همقطارانش در شورای امنیت سازمان ملل، یا به این درک نه رسیده اند و یا نخواسته که برسند که ادامه تحریم ها چه مشکلات را برای مردم افغانستان که بیشتر از چهار دهه را در تجاوز و جنگ با بیگانگان سپری کرده اند به بار آورده است، در حالی که یکی از تعهدات بنیادی سازمان ملل تلاش برای رفاه مردمان هر گوشه از دنیاست و در وجود چنین یک تعهد نباید سازمان ملل متحد عامل کاری شود که بر زندگی مردم عادی افغانستان اثر منفی بگذارد.

سازمان ملل که خود را مرجع تفاهم و همکاری میان ملل جهان معرفی می کند باید به جای ایجاد کمیته های نظیر (کمیته نظارت بر تحریم ها علیه امارت اسلامی افغانستان) زمینه گفت‌وگو و تعامل با امارت اسلامی را فراهم کند و از هرگونه حرکت منفی که تبعات آن می تواند مردم عادی را رنج دهد دوری کند.

با تأسف هنوزهم ایده اعمال فشار بر امارت اسلامی از سوی شماری از کشور های جهان در برابر امارت اسلامی هدفمندانه دنبال می شود و در این کار زار ضد افغانی از نهاد جهانی ابزاری کار گرفته می شود، در حالی که تحریم و فشار راه حل نیست. زیرا برای هر مشکلی منطق وراهکاری مثبت وجود دارد، قوی ترین راهکار، گفتگو وتفاهم است، ایده معقول که امارت اسلامی آن را پیشکش کرده است و بر شکل گیری آن تاکید دارد.

چه خوب است که سازمان ملل دور از سلطه گری های دیگران، مطابق به منشور و اهداف تدوین شده خود، برای حل مشکلات در مذاکره و مفاهمه با امارت اسلامی را باز کند و روی موارد ایرادی و اختلافی گفتگو شود تا دیگر برای تحریم های توجیه ناپذیر جا باقی نماند و ایده تفاهم و همکاری جایش را پیدا کند.

**تحلیل سیاسی**

# د جنايي پوليسو د ندو ته لنډه کتنه

**پوهنیار محمد خالد همت**

په انساني ټولنه کې د جرم پیښیدل د بشر ژوند له ډول، ډول ستونزو سره مخامخ کړي، ټولنیزي نا سالمي اړیکي نا امني، ظلم او ستم دا هغه ستونزي دي چې د ټولني وگړي ور سره لاس او گریوان دي. همدا راز ویلی شو چې په انساني ټولنه کې جرمونه د موسمي، جغرافیایي، اقلیمی، سیاسي او کلتوري وضعیت له مخې توپیر لري. د امنیت درونړ مسئولیت په حکومتی چارو کې د هیواد د نافذه قوانینو له مخې د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د پولیسو اساسي دنده ده، پولیس د خلکو د ځان، ناموس، عزت او د مال د ساتنې مکلفیت او مسئولیت په غاړه لري. لکه څرنگه چې وایی (پولیس د ټولنې خدمتگار دي ). د اسلام په لومړیو کې پولیس د العسس، عربې نړۍ کې د شرطه په نوم او بین المللی ټولنه کې د پولیس په نامه یادیږي. زمونږ په هیواد کې د احمدشاه بابا د امپراتورۍ پر مهال د ضبط بیگي او کوتوال (پولیس) په نامه یاد شوي دي. د لویو لارو، بندرونو څخه د امنیت ساتلو او د ښارونو د امنیت د ټینگښت لپاره بیلابیل پولیس د قانون په چوکاټ کې گمارل شوی .مونږ په دغ. مقاله کې یوازی د جنایی پولیسو دنده در پیژنو.

جنایی پولیس: هغه موظف مامور شخص دی چې خپلې مسلکي کړنې د قانون په رڼا کې د ټاکلې پلان له مخې تر سره کوي. جرمی اعمال تعقیبوی د جزایی اعمالو معلومولو لپاره د تخنیکي وسایلو او تجهیزاتو په کارولو جرم او فاعل تثبیتوې د پیښې فاعل د عدالت منگولو ته سپاري د دولت او قانون له ملاتړ څخه برخمن دي. د ټولنې د وگړو د حقونو، حیثیت، مال او د ناموس ساتنې مکلفیت لري همدا رنگه د جرم کشف، د دلایلو راټولول او د مظنونینو پیژندنه او نیول یې دنده ده. جنایي پولیس په ټولو اقلیمي، سیاسي او فرهنگي شرایطو کې د جرمونو کچې د را ټیټولو هڅه کوي، تر څو خلک وکولای شي په آرامه فضا کې ژوند وکړي، که چیرې جرمونه د کشفي ارگانونو له خوا په وخت سره کشف او مجرمین د قانون منگولو ته ونه سپارل شي منفي پایلې به ولري. د جنایي کړنو مرتکبین د جرم له ارتکابه وروسته هڅه کوي تر څو د جرمي پیښې ځای څخه وتښتي. که چیرې پولیس، عدلي او قضایي ارگانونه د مجرمینو د پیژندلو او محاکمې کولو ته جدي پاملرنه ونه کړي. په ټولنه کې به ناقانونه کړنې په چټکۍ سره په خپریدو شي. مجرمین به نور جرمونه هم تر سره کړي. د جرمونو زیاتوالی د دې لامل گرځي چې د ټولنې انکشافی مسایلو ته پام ونشي د بیلگې په توگه: د جرمونو د کمولو او امنیت د ټینگښت لپاره د هیواد د بودجې یوه لویه برخه تخصیص به امنیتي مسایلو ته ځانگړی کیږی. یاده ستونزه د جرمونو د زیاتوالي، فقر، بې وزلۍ او د روغتیایی خدماتو د کمښت لامل گرځي. له بلې خوا یاد شوی ستونزی له جرمونو سره د مبارزې، د امنیت په ټینگښت او د ټولنیزی هوساینې په را منځته کولو کې د دولت واک کمزوري کوی. پولیس د خپلو دندو په تر سره کولو کې ځانگړي واکونه او مسئولیتونه لري، کوم چې د جرمونو پر وړاندی مبارزه، د عامه امن د ټینگښت او د قانون پلي کولو لپاره له خپلو قانوني وړتیاوو څخه کار اخلي. همدا راز د هیواد نافذه جزایی اجراآتو قانون د حکمونو په حدودو کې د اثباتیه دلایلو په راټولولو او د استجواب واک لري او د قضایي ضبط مامور گڼل کېږي، جنایي پولیس د دولت کشفي ارگان څخه استازیتوب کوي او د قوانینو پلي کول، د ټولنې د وگړو د ښه امنیت او د عامه امن د ټینگښت لامل گرځي. هغه کسان چې قوانین او د نورو وگړو حقوق تر پښو لاندې کوي، امنیت او عامه نظم گډوډوي له نیولو وروسته د قانون منگولو ته سپاری. جنایي پولیس د جرمی مدارکو په راټولولو، د تورنو کسانو په نیولو، جرمي دوسیو کې ثبتول او عدالت ته په وړاندې کولو مکلف دې. د طبیعي علومو، تخنیکي وسایلو او نورو مهارتونو په کارولو سره د جرمونو کشف کې فعال، صادق، زیرک وي، له عصری مسلکی میتودونو سره سم مادي آثار را ټولوی او د جرم د اثبات لپاره په بریالیتوب سره هڅه کوې. په جرمي پیښو کې د متضررینو، شاهدانو او د مرتکب پیژندنه، د شکمنو کسانو نیول، د هغو څخه د اظهاراتو اخیستل، د سندونو او اثباتیه مدارکو څخه د هر اړخیزې بررسې او څیړنې تر سره کول دي. په جرمي پیښو کې مادي مدارک خاموشه دلایل دي کوم چې د مرتکب څخه د پیښې ځای کې د جرمي عمل کولو پر مهال تری پاتې کیږي باید یادونه وشي چې دا مدارک، شواهد د لابراتوار او د اهل خبره د نظر څخه وروسته محکمې ته د بشپړ باور سرچینه ده جنایي پولیس کولی شي د مجرم د جرم ثابتولو لپاره یې وکاروي.



د جرمي پیښې ځای څخه د جنایی پولیسو بررسې: د جرم ځای څخه کتنه او د څیړنی موخه د قضایي چارواکو لپاره د علمی، مستدلل او باوري راپور چمتو کول دي. د جرمې پیښې ځای څخه د څیړنې موخه یوه له اړینو مرحلو څخه د جرمی پیښی د ځای عینی کتنه ده او د هغې د ارزښت دلیل دا دی چې جنایی پولیس علمي مادی دلایل د عدالت د ټینگښت لپاره قضا ته وړاندې کړي. په حقیقت کې د پیښی ځای څخه کتنه د جرم او مجرم په اړه د معلوماتو راټولول د حقایقو تر لاسه کول دی، که په سمه او مسلکې توگه وڅیړل شي، دا به د مجرم د پیدا کیدو ښه دلایل وي د پیښې ځای څخه د لیدنی او مشاهدی اصلی موخه د جرمی شواهدو او دلایلو تر لاسه کول دي. که مجرم د پیښې ځای کې وي، د هغه د نیولو تعبیه کوی او د اړتیا په صورت کې به د جرمې پیښې د ځای ټپیان روغتون ته لیږدوي د جرم ځای د خوندیتوب مسئولیت هم په غاړه لري، تر څو **۵مخ**





## په ټولنه کې د مطبوعاتو ارزښت

مطبوعات په نړۍ کې د څلورمې قوې په حیث پیژندل شوي .

شرقي او غربي ښکېلا کگرو ،چې پر کمزورو هیوادونو د ملکۍ او د هغوی د غلامۍ فکر او خیال یې تر دې مهاله په مغزو کې غورځنگونه وهي او په همدې موخه یې د نړۍ په کمزورو هیوادونو کې ،چې اکثره یې اسلامي هیوادونه دي، د ساړه جنگ لاره چې د رسنیو له لوري پرمخ وړل کېږي غوره کړي ،چې عامه ذهنونه مخشوشوي ، ولسونه او ملتونه پرخپلو حکومتونو بې باوره کوي او په دې وسیله د حکومت او ملت ترمنځ فاصله ایجادوي او خپلې موخې ترلاسه کوي.

تاسې نن وینئ ، چې د اسلامي ملکونو په منځ کې پروت فلسطین د غاصبو صهیونیستي اسرائیلو او غربي یرغلگرو له لوري د اورپه لمبو کې سوځي او هیڅوک د دې جرئت نشي کولی ، چې د خپلو مسلمانانو ورونو په حمایت کې مرسته او همکاري خو لاڅه کوې ،چې پر خپله خوله هم د دغه وحشت او ظلم غندنه نشي کولی ،چې تر شلو زرو بې گناه فلسطینیان په کې په شهادت ورسېدل او د وحشت او بربریت دغه لړۍ لا روانه ده .

په دې برخه کې رسنۍ هم خپل رسنیز فعالیت چې خلکو ته واقعیتونه په گوته کړي نه شي اداء کولی ځکه چې اکثره رسنۍ د همدوی له لوري اکمالېږي او د دوی په گټه خپل نشرات خپروي .

په همدې هدف پرون د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د دولتي ورځپاڼو ریاست له لوري یو درې ورځنی روزنیز سیمینار هم پیل شو، چې څرنگه وکولی شي چاپي ، غږیزې او تصویري رسنۍ او زموږ د هیواد ملي ژبې پیاوړې شي او رسنۍ هم د پردیو له اغېزو پرته خپل رسنیز مسئولیت په ښه توگه اداء کړی ،چې څنگه له یو بل سره خپلې اړیکې غښتلې کړو .

د دغه روزنیز سیمینار په لړ کې به د یو شمېر علمي شخصیتونو او دولتي چارواکو نظرونه هم په لیکلې بڼه واخیستل شي او په اړه به یې لازم

# د ایران اسلامي جمهوریت دې زموږ هویتي پاڼو ته احترام وکړي

رحمت الله فیضان

لکـه څرنګـه چـې پوهیږو پاسـپورټ یوهویتي سـند دی چې، دولتونه یې د خپلو اتباعو د سفر د اسانتیا لپاره صادروي او د یو هیواد خلـک کولی شي د ویزې په ترلاسه کولو سره نورو هیوادونو ته سفر وکړي، افغانان هم د مختلفو موخو لپاره دا که سیاحت، تعلیم، کار، روغتیا او نوري قانوني موخي وي مختلفو هیوادونو ته سفرونه کوي چې د دغـو هیوادونو له ډلې څخه یو هم ایران دی، ایران د بهرنیو اتباعو لپاره څو متعددي ویزې په نظر کې نیولي دي چې عبارت دي :

۱-ورودي ویزه :

دا ډول ویزې د ورزشکارانو او علمي کسانو لپاره صادرېږي.

۲- سیاحتي ویزه :

دا د بهرنیـو سـیلانیانو لپـاره صادرېږي هغـه څوک چې د ایران له سیاحتي ځایونو څخه لیدنه کوي.

۳-زیارتي ویزې :

دا ویـزې د هغو کسـانو لپاره چـې په ایـران کـې د مذهبي ځایونو لیدو ته د سفر اراده لري صادرېږي .

۴-سیاسي ویزې :

ډیپلوماتانو، سـیاسي استازو او دولتي چارواکو ته صادرېږي .

۵-تحصیلي ویزې:

محصلینو ، متعلمینو او د دیني علومو زده کوونکو ته ورکول کیږي.

۶-دکار ویزه :

متخصصینو او هغو کسانو ته ورکول کیږي چې د کار په لټه کې ایران ته د ننوتلو اراده ولري.

۷-ترانزیتي ویزې :

د عامه وسـایطو چلوونکو، د اورګاډي کارکوونکو، د الوتنې عملې ، د کښتۍ عملې یا د نورو مسافرینو لپاره چې په ایران کې د ودریـدو اراده نلري او یوازې غواړي له ایران څخه تیر او بل هیواد ته لاړ شي صادریږي .

۸-مطبوعاتي ویزې :

ژورنالیسـتانو، انځورګرانو او خبریالانو ته صادرېږي.

۹- خدمتي ویزې :

د هیوادونو د سـیاسي نمایندګیو کارمندانـو ته ورکـول کیږي چې د غیر سـیاسي ماموریتونو مسئولیت لري.

۱۰-کثیرالورودي ویزې:

سـوداګرو او متخصصینـو ته ورکـول کیږي چـې څو ځله ایـران ته د تګ را تـګ اراده لري .

پـه دې وروسـتیو اوونیو کې ایران لـه بل هر وختـه زیات افغان کډوال پـه زور له ایران څخه ایسـتلو ته اړ کړي دي ، په دې کې داسي کسان هم شته چې قانوني اسـناد لکه ویزه یا اقامه هم لري شـامل دي ، دوي د افغانسـتان په مربوطه ادارو کې خپل شـکایتونه ثبت کړي او داسي شـواهد یـې وړاندي کړي دي چې د ایراني پولیسو له لوري د سپکاوي ترخنګ د دغو کسانو پاسپورټونه یا څیري شوي ، یا سوري شـوي او یا هم ترې اخیستل شوي دي .

دا چـې ولي د قانـوني اسـنادو لرونکـي افغانان هم لـه ایران څخه ایستل کیږي زما اټکل دا دي چې ، علت یې پر سیاحتي ویـزو په دغه هیـواد کې کار کـول دي، ممکـن د ایـران حکومت هغو بهرنیو اتباعو ته اجازه ور نه کړي چې غواړي د سیاحتي ویزې پرمټ کار وکړي ، بد بختانه ډیر افغانان ایران ته په سیاحتي ویزو د کار لپاره ځي چې په دې برخـه زموږ دولت مسئولیت لري چې خپلو اتباعو ته د سفر په برخه کې پوهاوي ورکړي .

افغانان په تیرو څلو ښتو کلونو کـې دومره توهین شـوي چې نور د هغو کسـانو سپکاوي نه شي زغمـلي چې د دوسـتي او ورورۍ ډېره پر سـینه ډبوي ، د دې ترخنګ د ایراني پولیسو له لوري د افغانستان هویتي پاڼو ته سپکاوي به د ایران او افغانستان د ولسونو ترمنځ ژوره کرکه را وپاروي .

دا مهـال د ګاونډیوهیوادونـو ( ایران او پاکسـتان) له نیتونو څخه داسي ښـکاري چې نور د دوي هیوادونـه د افغانانو لپاه امن او خوندي ځایونه ، نه دي ، نو غوره دا ده چې د افغانستان پـه دا خل او بهر کې میشـت افغانان لاسـونه سره ورکړي د خپلو خلکو د نجات په خاطرد اسـلامي امـارت ترخنـګ و دریږي او له خپلو راستنو شویو هیوادوالو سره د ستونزو د حل په برخه کې مرسته وکړی او په دې برخه کې له ځان پرته پر بله هیڅ چا تکیه ونه کړي .

# نرمه رسمیت پېژندنه؛ نړۍ ته په کار ده، چې ښکاره یې کړي

کلـه چـې د ۲۰۲۱ زیږدیز کال د اګست په ۱۵ مه اسلامي امارت پر هېواد واکمن شو، ورسره جوخت د نړۍ اکثریتو هېوادونو افغانستان سره اړیکـې پرې کړې او کابل او نورو لویو ښـارونو کې یې خپل سـفارتونه او اسـتازولۍ وتړلې او یوازـې څو د ګوتو په شـمار هېوادونو افغانستان سره اړیکو ته دوام ورکړ او دغه راز یې دلته خپل سـفارتونه او استازولۍ هم فعالې وساتلې، خو د وخت په تېرېدو او وروسته ترهغې چې نړۍ پوه شوه، اسلامي امارت نړۍ سره د اړیکو پاللو ښـه نیت لـري او دغه راز د نشه یي توکو د له منځه وړلو، فساد سره د ریښتوني مبارزې، افغانستان څخه نـورې نـړۍ تـه د امنیتي ګواښونو د پېښېدو په مخنیوي، د کورني امنیت په ټینګښت او نورو بېلابېلو برخو کې د کوټلو ګامونو د اوچتولو او پرمختګ کولو اراده لري، نو وار په وار رامخته شول او ګورو چې دې وروستیو کې کابل تـه د بهرنیو هېوادونو د اسـتازو تګ راتګ زیات شوي او دغه راز ځینو هېوادونو ان خپلې سـفارتي او کنسـولي چارې له سره ونیولې او ځینـو هېوادونو بیـا په خپله خاوره کې د افغانستان سفارتونه او قونسلۍ د اسلامي امارت استازو ته وسپارلې.

د دې ترخنـګ په مهمو نړیوالو او سیمه ییزو ناستو کې د اسلامي امـارت اسـتازو ته بلنـه ورکول شـوه او دوي هم د یو مقتدر او د افغانستان له عوامو راپورته شوي



نظام د اسـتازو په توګـه په کې ګډون او د افغانانو په استازولۍ یې خبرې وکړې.

اسـلامي امارت د نړۍ ټولې هغه اندېښنې چې ویل به یې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کیږي، فساد به له منځه وړل کیږي،د نشه یي توکو کاروبار به دریـږي او نور ي هغه ټولې له منځه ولاړې او په تېرو شـاوخوا دوه نیمو کلونو کې له افغانسـتان څخه نه پر کوم هېواد برید وشو او نه هم دلته بهرنیو وګړو ته کومه ستونزه جوړه شوه او دغه راز فساد او د نشـه یي توکـو کاروبار خو هسې هم په صفر کې ضرب شو، نو نړۍ ته پکار ده، چې له اسلامي امارت سره لا ډېر نور تعامل وکړي د رسـمیت پېژندنې له لارې کابل سره خپلې اړیکـې پیل او پیاوړې کړي.

دا چـې افغانسـتان تـه د بهرنیو هېوادونو له لوري د اسلامي امارت سفیران په رسمي مراسمو کې منل کېږي، اسـتازي یې کابل ته تګ راتګ کوي، وګړي یې په ډاډه زړه افغانسـتان ته په سیلګرۍ راځي، سوداګریزو راکړو ورکړو ته زړه ښه کوي، ملي سوداګر او پانګوال یې په افغانستان کې پانګونې ته زړه ښه کوي او ناستو کې د ګډون په موخه افغان استازو ته بلنه ورکوي ،نو ښکاري، چې اسلامي امارت پر نړیوالو اصولو برابر مخکې ځي او پکار ده، چـې ملګرو ملتونو کـې ورتـه د افغانسـتان څوکۍ وسپارل شي او نورو مهمو نړیوالو کنفرانسونو ته هم بلنه ورکړل شي.

# د راستنېدونکو کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون د دارالانشاء د کمېټو ورځنۍ کاري راپور

شـنبه د ۱۴۴۵/۶/۲ هـ ق نېټه چې د ۱۴۰۲/۹/۲۵ هـ ش نېټـې سره سمون خوري، د هېواد له بېلابېلو لارو څخه هېواد ته کډوال راستانه شوي او په بېلابیلو برخو کې ورته اړین خدمات وړاندې شوي، چې بشـپړ راپـور یې په لانـدې ډول وړاندې کیږي:

۱ ننـګرهـار

تورخم (ډیورنډ فرضي کرښه)

الـف: د ثبت، تثبیت او اسـتقبال کمېټه:

د تورخم له لارې (۸۰) کورنۍ او د نومـوړو کورنیو (۱۹۲)تنه غړي ثبت او بایمېټریک شوي دي.

ب: د مالي چارو د تنظیم کمېټه:

د مالي چـارو د تنظیـم کمېټې له لـوري له (۷۵) کورنیـو سره لس-لس زره افغانۍ مرسـته شوې چې مجموعًا (۷۵۰،۰۰۰) افغانۍ کیږي.

ج: د ټرانسپورټ او لېږد کمېټه:

لـه تورخـم څخـه (۶۸) کورنۍ چې د غړو شمېر یې (۴۲۵)تنه و، ننګرهـار، کونړ، لغـمان او کابل ته په خوندي توګه لیږدول شـوې دي او یادو کورنیو ته (۱۲۹،۹۰۰) افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده.

د: د لنډمهالي مېشتېدنې کمېټه:

پـه تورخـم کـې (۶۰) کورنۍ د مېشتېدنې په لنډ مهاله کمپونو کې ځاي پر ځاي شوې دي.

هــ: د خدماتو او روغتیایي چارو کمېټه:

د تورخـم په عمـري کمپ کې راستنېدونکو کډوالو ته د روغتیا په شـمول لاندې بېلابېل خدمات وړاندې شول:

غـذا: د تورخم پـه کمپونو کې (۳۵۰۰) خوراکـه ډوډۍ او (۱۳۵۰۰۰) لېتره اوبه توزیع شوي دي.

خوراکي توکي او البسه: په تورخم کې راستنو شویو کډوالو ته لاندې خوراکـي توکي او البسـه توزیع شوي:

۲۷۰ کمپلې، (۷۰)داني فرشـونه، (۷۰) بسـتې خام غذایي توکي او (۴۵۰) بسـتې معدني اوبه ویشـل شوي دي..

مخابرات: راستنو شویو کډوالو ته (۲۳۴) سیمکارتونه، په وړیا توګه چې وړیا دقیقې او انټرنېټي بستې هم پکې فعاله وې، توزیع شـوي دي.

و: د کار موندنې کمیټه:

د کارموندنې کمېټې نن په تورخم کې (۴) تنه دبکلوریا سند لرونکي، (۱) تـن فوق بکلوریـا، (۹۴) تنه غریبـکار او (۷۷) تنه حرفه‌یي او مسلکي کسان چې ټول (۱۷۶) تنه کیږي، ثبت کړي دي.

یادې کمېټې په تورخم کې (۱۵۸) تنه ماشـومانو ته د چاودیدونکو توکو، پاکوالي، ماشـوم ساتنې او د افغانسـتان په اړه عامه پوهاوي هم ورکړي او یادو ماشـومانو ته د رواني سـلامتیا په موخه د لوبو تفریحـي پروګرامونه هـم برابر شوي دي.

۲کنـــــــدهار

سپین بولدک (ډیورنډ فرضي کرښه)

الـف: د ثبت، تثبیت او اسـتقبال کمېټه:

د سـپین بولـدک لـه لارې (۹۴) کورنۍ چې د غړو شمېر یې (۵۳۰)



تنه کېدو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي.

ب: د مالي چارو د تنظیم کمېټه:

د مالي چـارو د تنظیـم کمېټې له لـوري له (۹۴) کورنیـو سره لس-لس زره افغانۍ مرسـته شوې چې مجموعًا (۹۴۰،۰۰۰) افغانۍ کیږي.

ج: د ټرانسپورټ او لېږد کمېټه:

نن له سـپین بولدک څخـه (۲۰) کورنۍ چې د غړو شمېر یې (۱۲۰) تنـه و، قندهار، هـرات، غزني او کابل ولایتونو ته په خوندي توګه لیږدول شـوې دي او یادو کورنیو ته (۳۳،۰۰۰) زره افغانۍ کرایه هم ورکړل شوې ده.

د: د لنډمهالي مېشتېدنې کمېټه:

په سپین بولدک کې (۶۶) کورنۍ د مېشتېدنې په لنډ مهاله کمپونو کې ځاي پر ځاي شوې دي.

هــ: د خدماتو او روغتیایي چارو کمېټه:

نـن پـه سـپین بولـدک کـې راستنېدونکو کډوالو ته د روغتیا په شـمول لاندې بېلابېل خدمات وړاندې شول:

غذا: په سـپین بولدک کې (۱۵۵۰) خوراکه ډوډۍ او پاکې اوبه توزیع شوې دي.

روغتیا: په سپین بولدک کې (۲۱۵) تنه راستانه شـوي کډوال تداوي شوي دي.

البسه: نن په لنډ مهالو کمپونو کې د اړتیا سره سـم خیمې، کمپلې او توشان کډوالو ته ویشل شوي دي.

مخابـرات: د مخابـراتي خدماتو د ادارې له لوري، راسـتنو شـویو کډوالو تـه (۱۵۰) سـیمکارتونه په وړیا توګه چـې وړیا دقیقې او انټرنېټي بستې هم پکې فعاله وې، توزیع شوي دي.

و: د کار موندنې کمیته:

د کارموندنې کمېټې نن په سـپین بولدک کې (۴) تنه د بکلوریا سند لرونکي ، (۸) تنه حافظان، (۲) تنه دیني عالمان، (۱۰۴) تنه غریبکار او (۳۸) تنه حرفه‌یي او مسلکي کسان چې ټول (۱۵۶) تنـه کیږي، ثبت کړي دي.

یـادې کمېټـې په سـپین بولدک کـې (۷۴) تنـه ماشـومانو تـه د چاودیدونکـو توکـو، پاکوالي، ماشوم ساتنې او د افغانستان په اړه عامه پوهاوي هم ورکړي او یادو ماشـومانو ته د رواني سـلامتیا په موخه د لوبو تفریحي پروګرامونه هم برابر شوي دي.

۳-زابـــل

د شـملزو لاره (ډیورنـډ فـرضي کرښه)

الف: د لنډمهالي مېشتېدنې کمېټه:

نن په شـملزو کـې (۱) کورنۍ د مېشـتېدنې په لنډ مهاله کمپ کې ځای پر ځای شوې ده.

۴-پکتیا

الف: د لنډمهالي مېشتېدنې کمېټه:

نـن د پکتیا د حـضرت ابوبکر صدیـق رض پـه کمپ کـې (۶) کورنۍ د مېشـتېدنې په لنډ مهاله کمپ کې ځای پر ځای شوې دي.

۵-پکتیکا

انګور اډه (ډیورنډ فرضي کرښه)

الف: د خدماتو او روغتیایي چارو کمېټه:

نن په انګور اډه کې راستنېدونکو کډوالو ته د روغتیا په شمول لاندې بېلابېل خدمات وړاندې شوې:

غذا: نن کډوالو ته په انګور اډه کې (۴۶)خوراکه ډوډۍ او اوبه توزیع شوي دي.

روغتیا: په انګور اډه کې (۲۶) تنه راستانه شوي کډوال تداوي شوي دي.

۶-نیمروز

د وریښمو لاره

الـف: د تثبیت، ثبت او اسـتقبال کمېټه:

نن د نیمروز ولایت د وریښمو له لارې (۵) کورنۍ چې د غړو شمیر یې (۱۶) تنه و، هېواد ته راستنې او ثبت شوي دي او همدا راز (۱۱۶۸) مسافر هېواد ته راستانه شوي دي.

ب: د مالي چارو د تنظیم کمېټه:

نن د نیمروز ولایت د وریښمو په لاره کې له (۱) کورنۍ سره لس زره افغانۍ نغدي مرسته شوې.

ج: د لنډمهالي مېشتېدنې کمېټه:

نـن په نیمـروز کـې (۶) کورنۍ چې د غړو شـمېر یې (۱۶) تنه و، د مېشتېدنې په لنډ مهاله کمپ کې ځـاي پر ځاي شـوي دي او یادو کورنیو تـه د ځاي، البسـې، غذا

# پیشگیری (وقایه) از جرایم

پوهنمل سمونوال شیرعلی «باتور احمدزی»

برای رهنایی انسانها و جلوگیری از شرک وگناه الله(ج) تقریباً یک لک وبیست وچهار هزار پیغمبر فرستاده وبالای انها چهار کتاب وصد صحیفه نازل گردیده است که مردم را به راه راست رهنمایی کنند و یک الله(ج) را عبادت کنند و از هرنوع گناه، فساد وجرایم جلو گیری نمایند و جرایم را قبل از وقوع وقایه نمایند. وقایه بهتر از مجادله است که در جامعه رول ارزنده دارد، اگر در جامعه جرایم وقایه شوند ضرور نیست که پولیس جهت بر رسی محل جرم، دستگیری مجرمین و څارنوال وقاضی جهت تحقیق واصدار حکم خود را مصروف نمایند. ازیک طرف سر ومال مردم به امن میگردند وازطرف دیگر مفاد اقتصادی نیز می باشد. که از مصرف زیاد در بخش های مختلف از قبیل پولیس، څارنوالی و محابس جلو گیری به عمل می اید.

یک ضرب المثل عام در کسور ماست که مجرم دوقدم از پولیس پیشتر است. بخاطریکه قبل از قبل مجرم جرم مرتکب میشود و بعداً به پولیس اطلاع میرسد. درین جا پولیس ازبر رسی محل واقعه شروع میکند و بعداً څارنوال وقاضی دست بکار میشوند. پیشگیری درلغت به معنی مانع شدن، جلوگیری کردن ووقایه است. اما در اصطلاح جرم شناسی دو تعریف داریم:

۱. تعریف عام پیشگیری:

که توسط شخصی بنام شرمن ارائه شد. ایشان بیان می‌کنند هر اقدامی که نتیجه آن کاهش جرایم باشد پیشگیری نام دارد، لذا تعریف شرمن یک تعریف عام است مهم نیست چه کاری صورت بگیرد بلکه نتیجه مهم است.

۲. تعریف خاص پیشگیری:

که توسط گسُن ارائه شده است. ایشان می‌گویند: به اقدامات غیر کیفری که هدف اصلی آن کاهش جرایم است پیشگیری می گویند. بنابر این اقدامات کیفری از دایره شمول پیشگیری به معنای خاصی خارج می‌گردد. در صورتی که تعریف عام اقدامات کیفری هم شامل می‌شد. به موجب تعریف پیشگیری به معنای خاص اقداماتی که حتی غیر کیفری هستند. اما هدف اصلی آنها کاهش جرایم نیست باز هم از بحث پیشگیری به معنای خاص خارج می‌شود. یک وقت شهرداری در برنامه توسعه خود هر چهار پنج سال یک پارک احداث می کند، این پیشگیری نیست پیشگیری زمانی است که این پارک به هدف کاهش جرایم ساخته شود. افزایش روشنای خیابان‌ها زمانی پیشگیری است که اداره برق صرفاً این کار را بر حسب وظیفه ذاتی خویش انجام نه داده باشد. بلکه با هدف کاهش جرایم آن را انجام داده باشد.

سوال: آیا می‌توان با افزایش مجازات از افزایش جرایم جلوگیری کرد؟

نه خیر افزایش مجازات با میزان افزایش جرایم تاثیر می گذارند. بطور مثال مجازات مانند شاخه بری درختان است که بعد ازقطع نمودن ان شاخچه های باقی مانده درخت قوی تر شده ورشد می کنند. اما بعداً مشخص شد که مجرم درارتکاب جرائم اصلاً به مجازات جرم توجه ندارد. به همین ترتیب یک وقت درشهر پاریس فرانسه از کیسه بری که گرفتار شده بود پرسان کردند که چرا دزدی کردی؟ کیسه بر گفت: در وقت اعدام یک جنایتکار که مردم تماشای آنرا میکردند ومن پول های آنرا دزدیدم.

در یک تقسیم بندی پیشگیری برسه دسته تقسیم شده است: اولیه، ثانویه و ثالثیه.

۱. اولیه: برای تمام مردم است. به معنای اقدامات کلی است که در جهت از بین بردن زمینه‌های جرائم در سطح جامعه صورت می گیرد. مثل برنامه‌هایی که جهت از بین بردن اعتیاد، بیکاری و ترک تحصیل انجام می‌شود.

۲. ثانویه: برای کسانی است که در آستانه و قوع جرم می باشند و نیاز به اقدام فوری دارند. هنوز جرمی مرتکب نشده اند اما اوضاع و احوال و قرائن به نحوی است که امکان وقوع جرم از ناحیه آنها زیاد است. مثل افراد ولگرد، معتاد ودیوانه ... وغیره .

۳. ثالثیه: لازم به کسانی است که یک بار مرتکب جرم شده اند و از این رو اقداماتی انجام می‌دهیم که از تکرار مجدد جرم جلوگیری شود.

انواع پیشگیری از جرایم قرار ذیل است:

الف- پیشگیری اجتماعی.

ب- پیشگیری وضعی وتخنیکی.

ج- پیشگیری کیفری(جزایی) .

الف-پیشگیری اجتماعی(اصلاحی):

پیشگیری اجتماعی به کلیه اقداماتی که در راستای اصلاحات فردی و رفع عوامل جرم زای اجتماعی و محیطی اعم از خانواده، دوستان، همسالان، رسانه‌های گروهی، عوامل اقتصادی و آموزشی صورت می گیرد، اطلاق می‌شود و دو نوع است: پیشگیری رشد مدار و پیشگیری جامعه مدار.

اول پیشگیری رشد مدار: به این توجه می‌شود که رشد جرائم در سطح جامعه در کدام مرحله از مراحل زندگی‌شان متوقف شده است و برای جرم مربوطه اقدامات لازم صورت می‌گیرد. مثلاً در یک جامعه‌ای که ۱۰۰ نفر جمعیت در آن قرار دارد ۱۰ نفر مجرم یا پرخاشگر هستند. این به دلیلی است که خانواده‌های این ۱۰ نفر نتوانستند در کودکی و نوجوانی به بچه‌ها آموزش بدهند که پرخاشگری خوب نیست لذا برای والدین آنها برنامه‌ای گذاشتند که چگونه اطفال خویشرا تحت تربیه واموزش قرار گیرند تا منحرف نشوند.

دوم پیشگیری جامعه مدار: مبنی براین است که ماباید کاری کنیم که مجرم مجدداً به اجتماع بر گردد. یعنی از طریق اجتماعی کردن دوباره مجرمین از ارتکاب مجدد جرایم پیشگیری نمایند. دلیل ارتکاب جرم ازسوی خیلی از مجرمین به علت احساسی است که دارند وگمان می کنند دراجتماع هیچ نقشی ندارند. ما باید افرادی را که ساکن مناطق جرم خیز والوده هستند را جامعه پذیر سازیم. مثلاً ادارات دولتی، مثل اداره ثبت احوال نفوس یا ... وغیره ویا حتی کلانتری به این مکان‌ها انتقال یابند و این افراد تصور کنند که دراین امور تعمل دارند. رفت وآمد ها باعث می شود که ساکنین آن مناطق جامعه پذیر وبه سراغ جرم نروند.

جرائم یقه سفید:

کسی که این اصطلاح را اختراع کرد شخصی است به نام ساترلن، او بیان می‌کند که بخشی از مجرمین هستند که به آن توجهی نشده است. از نگاه قانون‌گذار مخفی مانده اند و ازمجازات باز مانده اند، که به آن‌ها مجرمین یقه سفید می‌گویند.

او بر این عقیده است که این مجرمین چند ویژگی خاص دارند که عبارت اند از:

۱- همیشه نسبت به آن‌ها اصل برائت وجود دارد؛ یعنی جامعه به هیچ وجه به او به دید مجرم نمی‌تواند بنگرد. لذا این افراد اصلاً دوست ندارند که از آن‌ها تصویر بدی در جامعه بوجود بیاید و روی این موضوع خیلی حساس هستند.

۲- این مجرمین با توجه به موقعیت‌شان دست به ارتکاب جرم می‌زنند. در واقع اشخاص بلند مرتبه و دارای موقعیت و سمت حساس هستند. مثلاً اگر یک کارمند عادی بخواهد جرم رانجام بدهد همه مردم به کار او حساسیت نشان می‌دهند. اما اگر یک مدیر کل و یا معاون وزیرمرتکب اختلاس میلیاردها افغانی شود هیچ کس هم متوجه نمی‌شود. مجرمین یقه سفید از موقعیت‌شان سوء استفاده می‌کنند.

۳- مجرمین یقه سفید مرتکب جرائم فسفری می‌شوند. جرائم فسفری جرائمی هستند که نیاز به تفکر، مغز و حیله و نیرنگ دارد مقابل جرائم کلسیمی که آن‌ها بیشتر نیاز به قدرت دست و نیرو دارد.

۴- با این که اکثر جرائم با فعل تحقق می‌گردد، این سری از جرائم با ترک فعل صورت می‌گیرد. آن مشکل خواهد بود.

•رقم سیاه جرائم این گونه مجرمین بیسار بالاست. رقم سیاه رقمی است که نه جرم و نه مباشر هیچ کدام کشف نشده اند. علت عدم کشف این است که بزه دیده مشخصی ندارد.

• بطور خلاصه میتوان جهت اصلاح جامعه تبلیغ وترویج احکام دین مقدس اسلام وقوانین نافذه کشور در جاهای ذیل صورت گیرد :

۱۰ ـ مساجد

۲۰ ـ مکاتب

۳۰ ـ ادارات دولتی وخصوصی

۴۰ ـ سازمان های اجتماعی



۵۰ ـ پوهنتون های دولتی وخصوصی

۶۰ ـ ـ در محلات سلب ازادی

۷۰ ـ نقش وزارت حج واوقاف(در استخدام امامان واجد شرایط) وسایر مناطق کشور

۸۰ ـ نقش وزارت کار وامور اجتماعی را جع به کاهش بیکاری

ب - پیشگیری وضعی وتخنیکی:

اقداماتی که در وضعیت ارتکاب جرم و مراحل ارتکاب جرم صورت می‌گیرد تا فرصت ارتکاب جرم را از مجرم بگیرد. به جای اینکه شخص را عوض کنیم وضعیت ارتکاب جرم را عوض می‌کنیم. همانند بلند کردن دیوار منازل یا روشنی محله‌ها در شب و نصب دزدگیر(زنگ های الکترونیکی که در وقت تماس زگنال می دهد)

مبنای پیشگیری وضعی:

بر اساس نظریه اصالت سودمندی بنتام است که اشاره می‌کرد تمامی افراد در رفتارهایشان دنبال سود و فایده هستند. پس باید کاری کنیم که شخص خود را در عدم ارتکاب جرم بداند و از بزه منصرف شود.

روش‌های پیشگیری وضعی:

الف) جرم انگاری جرائم مانع:

جرمی از سوی قانون گذار مطرح می‌گردد که از طریق آن از مرحله بعدی جرم پیشگیری کرده باشد. مثل ممنوعیت حمل غیر مجاز سلاح که قانون گذار با این کار از وقوع قتل پیشگیری می‌کند.

ب) ایجاد حفاظت‌های فیزیکی:

همانند قرار دادن درهای حفاظتی فلزی در ورودی آپارتمان‌ها.

ج) ایجاد مانع بین افراد و سیکل جرم:

معمولاً در مورد مسئولین یا سرمایه داران یا سیاستمداران اعمال می‌گردد. مثل بررسی قبلی نقاطی که این افراد می‌خواهند در آنجا حضور پیدا کنند یا قرار دادن گارد ویژه.

د) شیوه سنتی نظارت و کنترل همانند پولیس، نگهبان، سرایدار و... کنترل خروجی‌ها و ورودی‌ها مثل نصب گیت مقناطیسی.

و) استفاده از کارت های بانک بجای انتقال پول.

هـ ) ایجاد فاصله یا موانع بین موضوع جرم ومجرم .

انتقادات پیشگیری وضعی:

۱. جابه جایی یا انتقال جرائم: که مهم‌ترین ایراد این نوع پیشگیری می‌باشد و بیان می‌کند که با این نوع پیشگیری جرائم از ریشه پیشگیری نمی‌گردد. مثلاً سارق از این به بعد از شیوه های جدید دیگر استفاده می کند .

۲. این نوع پیشگیری همه جرائم و همه افراد را نمی‌تواند پوشش بدهد. زیرا این نوع پیشگیری یک حالت توسعوی دارد و مثلاً همه مردم را نمی‌تواند به نصب دزدگیر مجبور کند.

۳. ایراد اقتصادی: به مصرف زیاد صورت می گیرد و برای چنین هزینه‌هایی باید یک فرهنگ سازی صورت بگیرد.

۴. ایراد حقوقی: این نوع پیشگیری گاه مخالف آزادی‌های اشخاصی است که ممکن است انسان احساس امنیت خاطر و آرامش خود را از دست بدهد.

۵. پیچیده کردن جرائم: وقتی برای طلا فروشی دزدگیر نصب می‌شود سارق از ارتکاب جرم پشیمان نمی‌گردد بلکه به دنبال آن است که دزدگیر را خنثی کند بعضی جرائم فنی‌تر و تخصصی‌تر می‌شود.

بطوری خلاصه پیشگیری وضعی به طریقه های ذیل صورت می گیرد:

۱ ـ نصب کمره های امنیتی .

۲ ـ سیم خاردار.

۳ ـ دیوارها ودیوار های اسکو (سمنتی).

٤ ـ پهره وگزمه وپوسته های امنیتی

٥ ـ کندن جوی ها ، خندق ها ودیگر موانع .

٦ـ نصب دزد گیر ونصب دروازه های مقناطسی.

ج - پیشگیری کیفری (جزایی ):

وقتیکه پیشگیری‌های اجتماعی (اصلاحی)، وضعی و تخنیکی اثرگذار نباشند جهت جلوگیری از جرایم از پیشگیری کیفری استفاده صورت می گیرد. که عبارت است از تطبیق مجازات بالای مجرم که هدف مجازات اصلاح مجرم وعبرت به جامعه می باشد و در جریان سلب آزادی از عمل خویش پشیمان شده ودر پهلوی ان کار تربیتی واصلاحی نیز بامجرمین صورت می گیرد. که در نتیجه از تکرار جرم پیشگیری می‌شود.

بایدبخاطر داشت که مجازات متناسب با عمل ارتکاب یافته باشد وقاضی در اصدار حکم تمام جوانب قضیه، شخصیت مجرم وانگیزه ارتکاب جرم رادرنظر داشته باشد. که درتخفیف مجازات اثر خاص دارد .

هم‌چنان هیچ مجرم بدون مجازات نماند وهیچ بی گناه مجازات نشود که درجامعه جلوگیری از رشد جرا یم می گردد.

بطور خلاصه پیشگیری کیفری به طریقه ها ی ذیل صورت می گیرد:

۱ ـ تطبیق قوانین جزائی یک سان بالای مجرمین

۲ ـ مجازات عادلانه به مجرمین

۳ ـ کار تربیوی بامحبوسین در محلات سلب ازادی

٤ـ ترس از مجازات

٥ـ اکثرأ دانشمندان جهان به این عقیده اند که مجرم به اثر ارتکاب عمل مخالف قوانین ومقررات جامعه نظم جامعه رابر هم زده وجامعه حق دارد آنرا مجازات کند.

## نتیجه

باتر تیب وتحریر این مقاله به این نتیجه رسیدم که جلو گیری از جرایم وتامین امنیت اعتبار واطوریته دولت را درکشور بالا میبرند ومردم که جان ومال انها به امن باشند خودرا مصون احساس میکنند درین صورت مردم میتوانند به ارامی بدون کدام تشویش وظایف سپرده شده و شخصی خویش را به صورت درست انجام میدند. اگر قبل از وقوع جرایم جلو گیری گردند از مصارف زیاد در بخش های امنیتی، قضا ومحابس جلو گیری بعمل می اید.

**ماخذ:**

**۱- ستوده هدایت الله ، بهشته مرزائی وافسانه پازند، چاپ پنجم انتشارات اوای نور تهران ایران ) سال ۱۳۸۷ هجری شمسی .**

**۲- محسنی فرید، جرم شناسی، نشرات پوهنتون امام صادق، تهران، سال(۱۳۹۴) هش.**

## دوخت له غوښتنو سره سم د...

کې ورځپاڼې او جریدې د اقتصادي، بنې او محتوا له پلوه له ستونزو سره مخ دي، ځکه خو یې بهیر ټکنی دی. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګي چارو مرستیال عتیق الله عزیزي په ډاګه کړه، چې ولایتونو کې دې چاپي مطبوعات پیاوړي شي او په ولس یو بل ته نږدې کړي. ده دغه راز د دې لپاره چې رسنۍ د ولس د وینښتابه اصل دي او د عامه افکارو په جوړولو کې غوښنه ونډه لري، پر حکومت غږ وکړ، چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې دې خپل مسئولیت پر ځای کړي او د رسنیو له استازو سره دې وکړي او د کار امکانات دې ور ته برابر کړي.

ده په څرګندو ټکو وویل، د دې لپاره چې نقد د سمون اصل دي ،نو پکار ده، چې حاکمان د رسنیو انتقادونه ومني او اندېښنو ته یې ځوابونه ورکړي.

خو د پوهنې وزارت اداري مرستیال




خبره یې: (( دا د حکومت مسئولیت دي چې په رسنیز ډګر کې د پرمختګ لپاره د اوسني عصر له غوښتنو سره سم د رسنیو اړتیاوې پوره کړېږ))

ده زیاته کړه، چې دولتي مسئولین دې رسنیو سره د اطلاعاتو په شریکولو کې مرسته وکړي او په وینا یې که په دې برخه کې یوه ورځ هم ځنډ او خنډ راشي دا به په رسنیز ډګر کې د حکومت ناکامي وي.

د غونډې په یوه څنډه کې د طلوع ټلویزیون رئیس ذبیح الله سادات رسنۍ په ټولنه کې د بې باورۍ د له منځه وړو مسئولې وبللې او زیاته یې کړه، چې رسنیوال دنده لري چې حکومت او مرسته وکړي.

د کابل پوهنتون استاد نصرت حقپال د خپلو خبرو په جریان کې په افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کې د رسنیز بهیر خراب وضعیت ته په اشارې وویل، چې د نړۍ حاکم روایت او د عامه افکارو مدیریت د مسلمانانو له کنټروله وتلي او د غرب په لاسونو کې لوېدلي دي.

نوموړي وویل: « رسنۍ او مطبوعات د نسل په روزنه کې مرکزي رول لري، که زموږ رسنۍ دا وړتیا پیدا نه کړي، دغه چاره به بیا زموږ دښمنان تر سره کوي.»

د حقپال په خبره، حکومت دې د نظام د بقا لپاره د دولتي ورځپاڼو تر څنګ د شخصي ورځپاڼو او رسنیو ملاتړ هم

مولوي صبغت الله وصیل وویل، چې رسنۍ دې په داسې بڼه شته نیمګړتیاوې نقد کړي، چې موخه یې اصلاح راوستل وي، نه د نورو مفاهیمو وړاندې کول.

د ده په باور، په اوسني وخت کې د دولتونو او ملتونو تر منځ د مصطلحاتو جنګ روان دي، نو کورنیو رسنیو ته په کار ده تر څو داسې اصطلاحات وکاروي، چې د نظام مقام او دبدبه نه ننګوي. د غونډې ګډونوالو په دې ټینګار وکړ، چې د ورځپاڼو تاریخي میراث باید وساتل شي که نه، خپلو تېرو لیکوالانو او مطبوعاتي شخصیتونو ته به ملامت یو. نذیر منیب

# کاهش بهای مواد غذایی و سوخت در پنجشیر

بهای مواد خوراکی و سوخت در پنجشیر به تناسب سال پیش، به گونه قابل ملاحظه کاهش یافته است.

دکانداران در بازارک، مرکز پنجشیر می گویند بهای آرد، روغن و برنج امسال تا هفتصد افغانی کاهش پیدا کرده است.

آنان می گویند که همچنان گاز مایع سال پار به صد افغانی در بازار های پنجشیر به فروش می‌رسید اما اکنون بهای آن به «۶۰-۷۰» افغانی کاهش یافته است.

با این همه، نرخ چوب در هر سیر سی افغانی بلند رفته است.

کارشناسان اقتصادی ، علت اصلی کاهش مواد غذایی و سوخت را در بازارهای افغانستان، پایین آمدن نرخ دالر در برابر پول افغانی، کنترل به موقع بازار و روابط خوب تجاری در بخش صادرات و واردات با کشور های خارجی بیان می کنند.خان آغا یک تن از دکانداران بازارک مرکز پنجشیر به آژانس باخترگفت که سال گذشته یک بوری برنج دو هزارو نه صد افغانی به فروش می‌رسید، اما در حال حاضر به دو هزارو دوصد کاهش یافته است. همینطور یک بوری آرد از دوهزارو دوصد افغانی، به یک هزار و هشتصد و همچنان روغن ده لیتره از دوهزارویک صد به یک هزار و چهارصد افغانی کاهش پیدا کرده است.

وی افزود که همچنان یک کیلو گاز را به هفتاد افغانی به فروش می رسانند.قاری حفیظ الله دکاندار مرکز پنجشیر گفت که با کاهش نرخ مواد غذایی و سوختی در بازارهای این ولایت، کار وبار آنان نسبت به گذشته رونق گرفته‌است.غلام علی باشنده بازار مرکز پنجشیر با آنکه از کاهش نرخ مواد خوراکی در ولایت خویش اظهارخوشی می کند، از امارت اسلامی افغانستان میخواهد این بسنده نیست باید از این هم نرخ مواد خوار و بار کاهش پیدا کند.

جمیل بهیر کارشناس اقتصادی در پنجشیر گفت که زمانی به کاهش فقر در خانواده ها دست خواهیم یافت که نرخ مواد غذایی و سوخت در بازار ها کاهش چشمگیر پیدا کند که مردم توان خرید آن را داشته باشند.وی همچنان از عملکرد امارت اسلامی افغانستان در راستای کنترول قیم در بازار های پنجشیر ستایش کرده و به تداوم آن تأکید کرد.در این حال کارشناسان اقتصادی در پنجشیر می گویند کاهش فقر در خانواده ها بسته گی به کاهش مواد اولیه و همچنان ایجاد فرصت های شغلی به افراد بی کار دارد.

رحمت الله محمدی شاروال بازارک پنجشیر می گوید که کمیته تعیین قیم اداره آنان، همواره از بازارهای پنجشیر نظارت دارد.

### د جنایي پولیسو...

د جرم شواهد له منځه لاړ نشي. په پایله کې جنایي پولیس خپلې کړنې د پېښې ځای څخه په تفصیل سره مستند کوي هر ډول مادي مدارک له را ټولولو وروسته، باربندی او لابراتوار ته لېږدوي د جرمي پېښې ځای څخه انځورونه اخلی، د کتنې محضر ترتیبوي او د خپلو مسلکي کړنو ټولې پایلې په راپور کې لیکې او اړوندې مرجع ته یې استوی.

**سر چیني:**
**-استادان دیپارتمنت کریمنالستیک اکادمی پولیس ۱۴۴۴ کریمنالستیک انتشارات مطبعه پولیس**
**-استادان دیپارتمنت امن عامه اکادمی پولیس ۱۴۴۴ کتاب حقوق پولیس انتشارات مطبعه پولیس**
**-وزارت عدلیه جریده رسمی سال ۱۳۹۳ قانون اجرآت جزایی افغانستان.**

### د راستنېدونکو...

د: د خدماتو او روغتیایي چارو کمېټه:

نن د نیمروز د وربښمو په لاره کې راستنو شویو کډوالو ته د روغتیا په شمول لاندې بېلابېل خدمات وړاندې شول:

مخابرات:د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د مسئولینو له لوري (۵) سیم کارتونه کډوالو ته په وړیا توګه چې وړیا دقیقې او انټرنټي بستې هم پکې فعاله وې، توزیع شوي دي.

هـ: د اطلاعاتو او عامه پوهاوي کمېټه:

نن د نیمروز ولایت د وربښمو په لاره کې (۱۶) تنو کډوالو ته عامه پوهاوي ورکړل شو:

یادو کډوالو ته د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډمهاله مېشتېدني او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوي ورکړل شو.

۷- کابـــــل

الف: د ټرانسپورټ او لېږد کمېټه:

نن له کابل څخه (۲۷) کورنۍ چې د غړو شمېر یې (۱۱۲) تنه و، کندز، بلخ او خوست ولایتونو ته په خوندي توګه لېږدول شوي دي او د یادو کورنیو د موټرو ټوله کرایه (۱۲۷،۷۵۰) افغانۍ شوې ده.

د ټولو دروازو او کمېټو د بېلابېلو فعالیتونو مجموعي ارقام په لاندې توګه دي:

ټول ثبت شوي کډوال: (۱۷۹) کورنۍ، (۷۳۸) افراد

ټول لېږدول شوي کډوال: (۸۸) کورنۍ، (۵۴۵) افراد

ټول مرسته شوي کډوال: (۱۷۰) کورنۍ

لنډمهالي مېشت شوي کډوال: (۱۳۹)کورنۍ

ټول تداوي شوي کډوال: (۴۴۱) تنه

توزیع شوي سیمکارتونه: (۳۸۹) عدده

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون دارالانشاء

### د قوشتېپې کانال...

نقشه باید شامله شي، ترڅو د کانال د کار له بشپړېدو وروسته په اغېزمنه توګه وکارول شي.د کرنې او مالدارۍ وزارت مرستیال مولوي صدراعظم عثماني د قوشتېپې کانال پروژه یوه لویه ملي پانګه بللې او ویلي یې دي؛ د قوشتېپې کانال پروژه زموږ د هېواد له ملي پانګو څخه یوه ده، چې که هره چاره یې د پلان پر اساس او منظمه پرمخ ولاړه شي اغېزمنتیا به یې لا زیاته وي. له همدې امله اړتیا ده، چې د پلان له مخې برښنایي سیستمونه، تاسیسات، تحکیمات او ګاز یې په طرحه کې تنظیم شي، تر څو په راتلونکي کې له ستونزو سره مخ نه شو.

ګډونوالو د ځمکې د اجارې، د کانال په شاوخوا کې له اوبو او ځمکې څخه د اغېزمنې استفادې، د پروژې د چارو د پرمختګ، د باد ماتوونکو د جوړولو، د بوټو د کرلو په اړه د څېړنې، پر خاورې او اقلیم د څېړنې او د اداراتو پر مسئولیتونو خبرې اترې کړې او خپل نظرونه یې شریک کړي دي.

د غونډې په پای کې د مولوي صدراعظم عثماني په مشرۍ یوې کمېټې ته دنده سپارل شوې، چې پر دې موضوع کار وکړي او د اړتیا په صورت کې دې سیمې ته انجنیران واستوي، ترڅو په ګډه پرې کار وشي..

### د برښنا پرچوي...

څخه استفاده کوو، خو د کجکي دبرښنا وخت نهدي معلوم، کله یو وخت راشي، کله بیخي په ورځو ورځو ورکه وي، کاریګر ورته انتظار وي، که برښنا راځي موږ به یوازې دومره کار وکړو چې په مته کې د کاریګرو غاړه پرې وباسو.))

په ورته مهال د لښکرګاه اوسېدونکي هم د برښنا دکمښت له امله شکایت کوي او وایي: د برښنا د نشتون له امله د کورونو ترڅنګ هغه کاروباریان، چې د برښنا پرمټ خپلې چارې پرمخ وړي، له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.د لښکرګاه اوسېدونکي محمدقاسم وایي: ((د کجکي برښنا زموږ لپاره زیاته ګټوره ده، ځکه موږ که کار کوو، دومره لګښت نه وربانديې راځي، لکه موږ چې د جنراتور ډیزلي برښنا کاروو، غوښتنه مو له حکومت څخه دا ده چې د برښنا ستونزې راته هواري کړي.))بلهخوا د هلمند د برښنا ریاست مسئولین په دې ولایت کې د برښنا دکمښت ستونزه تائیدوي، خو وایي: د هلمند کجکي بند کې د اوبو کچه راټیټه شوې او له همدې کبله هلمند او کندهار ولایتونو ته کمه برښنا ورکول کېږي.د هلمند د برښنا رئیس حافظ هدایتالله وایي، کجکي بند ټول ټال د ۱۵۰ میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري، خو اوس د اوبو د کموالي له امله یوازې ۱۶میګاواټه برښنا تولیدوي، که د اوبو کچه لوړه شي، هلمند او کندهار ته به ۲۴ساعته برښنا ورکړل شي.ده وویل: ((برښنا د اوبو د کمښت له کبله کمه ده، ځکه اوس کجکي بند باندې زموږ د برښنا یو توربین چالانه دي او نور ټول بند دي، که د اوبو سطحه لوړه شي، نور توربینونه به هم چالانه شي او برښنا به زیاته شي.))د اوبو نشت او کموالي هلمند او کندهار کې داسې مهال له کجکي بند څخه د تولیدي برښنا اړوند په پراخه کچه ستونزې راپیدا کړي چې هیواد کې د تېلو لوړو او بېثباتو بیو هم ولسي وګړو او هغو صنعتي کارخونو ته لوی سرخوږی جوړ کړي چې ډیزلي برښنا کاروي.

### سمنګانو کې...

او یوولس یې هم حضرت سلطان کې دي.د صدیقي په وینا، له دې پروژو یې موخه د ((آبرېزو تنظیم، د چاپېریال ساتنې خوندیتوب او د ټولنو اقتصادي پیاوړتیا)) ده.په ورته مهال یادې پروژه کې یوشمېر هغه کسان چې د کار کولو زمینه ورته برابره شوې، وایي، خوښ دي چې له دې لارې به د خپلو کورنیو اقتصادي ملاتړ وکړي

### نمایشگاه خدمات...

نیز دریافت کردیم.)) مدینه، یکتن دیگر از شرکت کنندگان، بازدید آزادانه عموم در چنین نمایشگاهها را خیلی مهم میداند.(( اینجا خیلی خوب بود، ما در نمایشگاه خدیجه کبرا هم شرکت کرده بودیم، اما آنجا فروشات نداشتیم، چون بهروی عموم باز نبود و تنها خانمها بازدید میتوانستند.))

در عین حال مریم که از ولایت بامیان جهت به نمایش گذاشتن محصولاتش درین نمایشگاه شرکت کرده بود، گفت که در حدودی محصولاتش به فروش رسیده است، اما او از بلند بودن کرایه غرفهها شکایت دارد. (( نمایشگاه خوب بود، اما مشکل اساسی ما این است که کرایه غرفهها بسیار بالا است. ما نتوانستیم مستقلانه غرفه بگیریم و مجبور شدیم سه نفر یک غرفه را مشترک بگیریم.))در عین حال برخی از بازدیدکنندگان چنین نمایشگاهها را به عنوان یک فرصت تفریح و خریداری پنداشته و خواستار افزایش آن اند.(( خیلی خوب است که چنین نمایشگاهها برگزار شود، هم تفریح میکنیم و هم بسیار محصولات خوبی در این نمایشگاهها یافت میشود تا مردم خرید کنند.))

گفتنی است که نمایشگاه خدمات برتر ملی، به هدف حمایت از تولیدات داخلی و مهاجرین بازگشته از پاکستان برگزار شده بود. زنان اشتراک کننده درین نمایشگاه از شهروندان میخواهند که از تولیدات داخلی استفاده کنند تا در کنار توسعه اقتصادی، زمینۀ کار نیز برای هم میهنان شان فراهم شود.

### همکاری مردم ...

مردم، ادارات یادشده دستآوردهای ((خوب)) داشته اند.مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزراء به نوبه خودتلاشهای رهبری وزارت امور داخله را ستوده و گفت که همکاری و هماهنگی مشترک مردم و امارت اسلامی سبب تطبیق پروژههای بزرگ زیربنایی و فراهم شدن زندگی بهتر برای مردم میشود.طبق یک خبر دیگر این معاونیت؛ شماری از مسئولین امارت اسلامی، علمأ، مجاهدان و بزرگان قومی نیز به دیدار مولوی عبدالکبیر رفتند و نسبت به شروع کار و صحتمندی او ابراز خرسندی کردند.آنانهمچنان، تلاشهای معاونیت سیاسی را در بخشهای انسجام اقوام و استماع پیشنهادات مردم، سودمند خواندند.

### د روغتیا نړیوال...

د فلسطین او اسرائیلو تر منځ په دې دورې شخړې کې پر عامې روغتیا او دماغي روغتیا د اغېزو په هکله معلومات وړاندې کړي.ده زیاته کړه،چې دغه دندې په اوسنیو حالاتو کې نه شي بشپړېدای، چې د غزې په سیمه کې د بشري مرستې کارکوونکو او طبي کارکوونکو په شمول د ټولو کسانو خوندیتوب تامین نشي. یوازینۍ لاره سمدستي اوربند دي.

### را اېستل شویو...

نوموړي له ټولو سوداګرو او پانګوالو غوښتي، چې په دې برخه کې ونډه واخلي.مولوي عبدالسلام حنفي د اجباري بېرته راستنېدونکو کډوالو په برخه کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د رهبرۍ کړنې ستایلي دي.د ریاست الوزراء اداري مرستیال ویلي، اسلامي امارت کډوالو ته، چې په اجباري توګه د ټولو بین المللي نورمونو او قواعدو خلاف له پاکستان، ایران او نورو هېوادونو راویستل کېږي، له ټولو شته امکاناتو په استفادې د مناسبې زمینې برابرولو هڅې کوي او له نیکه بخته چې د دغې ستونزې د مدیریت له عهدې راوتلي دي.ښاغلي حنفي همداراز ویلي، اسلامي امارت به د اجباري بېرته راستنېدونکو لپاره له هیڅ راز لازمو خدماتو وړاندې کولو ډډه ونه کړي

# Hewad Daily

دوشنبه د جمادي الثاني ۵ مه ۱۴۴۵ ق کال ا د لیندۍ ۲۷ مه ۱۴۰۲ ل کال ا د ډسمبر ۱۸ مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱



پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


# مولوي عبدالسلام حنفي: را ایستل شویو کډوالو سره هېڅ ډول مرستې نه درېــغوو



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر خلیل الرحمان حقاني، د یاد وزارت مرستیالانو او استازو سره لیدنه کړې.خلیل الرحمان حقاني د ریاست الوزراء اداري مرستیال ته د خپلو چارو او کړنو راپور وړاندې کړي.د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر ویلي: ټاکل شوې کمیټې د اجباري بېرته راستېدونکو کډوالو د لېږلو او ځای پر ځای کولو په برخه کې اړین خدمتونه وړاندې کوي او ټول هڅه کوي د خدمتونو په برخه کې له ټولو شته امکاناتو ګټه واخلي.
ښاغلي حقاني له دریو میلیونو د زیاتو افغان کډوالو بې ځایه کېدو ته په اشارې ویلي، د اسلامي امارت ټول مسئولین د یاد بحران د غوره مدیریت په موخه هېڅ راز هڅې نه درېغوي. **۵مخ**

# تېره میاشت د څه باندې ۲۲۷ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات شوي

د احصایې او معلوماتو ملي ادارې په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په همدې موده کې د افغانستان واردات څه باندې ۶۸۱ میلیونه ډالرو



افغانستان سږ کال په لړم میاشت کې د څه باندې ۲۲۷ میلیونو ډالرو په ارزښت صادرات کړي، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۲۶ سلنه زیاتوالي ښيي.
د دې ادارې په خبرپاڼه کې راغلي ته رسېدلي دي.
د احصایې او معلوماتو د ملي ادارې شمېرې ښيي، چې د سږ کال په لړم میاشت کې له ټولو ډېر صادرات پاکستان، هند او چین ته شوي دي.

# د روغتیا نړیوال سازمان یوځل بیا غزه کې د اوربند غوښتنه وکړه

د روغتیا نړیوال سازمان عمومي مدیر تېډروس ادهانوم غبریاسوس د ډسمبر په ۱۵مه په ژنیو کې د ملګرو ملتونو د خبریالانو ټولنې له خوا په کلنۍ خبري ناسته کې یو ځل بیا له فلسطین او اسرائیلو څخه غوښتنه کړې، چې د غزې په ټرانګې کې سمدستي اوربند وکړي.تېډروس وویل: د فلسطین د نیول شویو خاورو د روغتیایي حالت په هکله د روغتیا نړیوال سازمان اجرائیه کمیټې په ځانګړې غونډه کې څه موده مخکې یو پریکړه لیک تصویب شوی. په دې پریکړه لیک کې غوښتنه شوې، چې سمدستي په دوامداره او سالمه توګه د غزې ټرانګې ته بشري مرستندوی توکي او طبي کارکوونکي ولېږل شي. دغه راز د



دې سازمان له عمومي مدیر څخه غوښتنه شوې، چې **۵مخ**

# جي پي اي د افغانستان د پوهنې برخې سره ۱۱۰ میلیونه ډالره مرسته کوي

د زده کړې لپاره نړیوال ګډون (جي پی اي) په یوه خپره کړې خبر پاڼه کې ویلي، چې په افغانستان کې یې د ماشومانو د زده کړو د ملاتړ لپاره ۱۱۰ میلیونه ډالره مرسته ځانګړې کړې ده. د معلوماتو له مخې دا مرسته به د دوو راتلونکو کلونو لپاره د افغانستان له نجونو او هلکانو سره مرسته وکړي؛ تر څو په ټولنیز محوره زده کړو کې ګډون وکړي او بنسټیز مهارتونه زده کړي. د زده کړې لپاره نړیوال ګډون ویلي، هیله لري چې په ټول هیواد کې به ۷.۶۶ میلیونه ماشومان د دې سازمان له مرستو برخمن شي. د زده کړې لپاره نړیوال ګډون په نړۍ کې د بې سوادۍ د ختمولو لپاره کار کوي، دوی مالي منابع راغونډوي او موخه یې داده، چې په کم عاید لرونکو هیوادونو کې د زده کړې د برخې ملاتړ وکړي.

چارواکي:

# ټاپي پروژه کې به زرګونو هیوادوالو ته دکار زمینه برابره شي

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر ټاپي پروژه د هیواد د اقتصادي ودې لپاره اغېزمنه بللې او زیاته کړې یې ده چې د یادې پروژې په پلي کېدو سره به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.



نوموړي په هرات کې یوې غونډې ته ویلي، چې د هرات – غور شاوخوا ۳۵۰ کیلومتره لویه لاره به د دغه ولایت له عوایدو څخه ورغول شي. ټاپي له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او بیا هند ته د ګاز نللیکې د غځولو پروژه ده چې ۷۳۵ کیلومتره یې د افغانستان له هرات، فراه، هلمند او کندهار ولایتونو څخه تېرېږي.

# فاریاب کې د ۳۶ پراختیایي پروژو چارې بشپړې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري او د UNOPS دفتر په مالي مرسته د فاریاب ولایت په بلچراغ ولسوالۍ کې د ۱۵ میلیونه افغانیو په لګښت د معیشتي او ټولنیز ملاتړ پروګرام د ۳۶ پراختیایي پروژو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.په یادو پروژو کې د سړکونو بیارغونه او جغل اچول، د محافظوي دیوالونو جوړول، د اوبو د کانالونو پاکول او جوړول شامل دي.د یادو پروژو د کار په جریان کې سلګونو تنو کارکوونکو ته د کار زمینه برابره شوې وه او په بشپړېدو سره یې په اړوندو برخو کې د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو ستونزې هوارې شوې.



# د کندز دشت ارچي کې د اوبو برښنا یوه شبکه جوړه شوه

د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د اوبو برښنا یوه شبکه فعاله شوه.
د برښنا یاده شبکه چې د ۱۳۵ کیلو واټه برښنا د تولید ظرفیت لري، د یو سوداګر له خوا د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې ده.
د دشت ارچي ولسوالۍ اوسېدونکي چې له کلونو راهیسې، د برېښنا له نشتوالي سره مخ دي، د دغې شبکې په فعالېدو خوښ دي، خو وایي، چې دا بسنه نه کوي او سرپرست حکومت باید په دې برخه کې لا زیاتې هڅې وکړي. د کندز په دشت ارچي ولسوالۍ کې د بریښنا یاده شبکه په داسې حال کې په فعالیت پیل کوي، چې د دې ولسوالۍ د اوسېدونکو لویه برخه له کلونو راهیسې له برښنا څخه بې برخې پاتې ده.

## بهرني لنډخبرونه

# ګوتـــرېش: د کـډوالو ملاتړ او خوندیـتوب د ټول بشریت ګډ مسـئولیت دی

د ملګرو ملتونو سرمنشي، انتونیو ګوترېش د کډوالۍ په نړیوال فورم کې ویلي، چې یواځې سږکال په نړۍ کې ۱۱۴ میلیونه




خلک بې کوره شوي، چې ۳۶ میلیونو یې خپل هیوادونه پرېښي دي. ګوترېش ویلي چې د کډوالو ملاتړ او خوندیتوب د ټول بشریت ګډ مسئولیت دی. ده پر هیوادونو غږ کړی، چې یوه پیاوړې سیاسي اراده رامنځته کړي، ترڅو یې په مرسته جګړې پای ته ورسېږي او نور خلک کډوالۍ ته مخه ونه کړي.

# د ولسمشر جو بایډن د استیضاح کار په رسمي توګه پیل شوی

د امریکې د جمهوري غوښتونکي ګوند تر کنټرول لاندې د ملي پارلمان د استازو جرګې په وروستیو ورځو کې د رایګیرۍ له لارې د ډیموکراټ ګوند د غړي ولسمشر جو بایډن د استیضاح کېدو کار منظور کړ.
دغه پلټنه د جمهوري غوښتونکي ګوند له خوا پیل شوې او د اټکل له مخې به څو میاشتې دوام ولري.
له دې څخه څرګندېږي، چې د سپینې ماڼۍ او جمهوري غوښتونکي ګوند تر منځ جنجال به نور سختېږي او ښایي ، چې د امریکا سیاسي ډګر به د نوي کال د رارسېدو په وخت کې له ستونزو سره مخ وي. د شنونکو په اند، د امریکې د جمهوري غوښتونکي ګوند او دیموکراټ ګوند، د مختلفو ګوندونو په دننه کې د ګټو د لټون په موخه سیالۍ سختې دي. د ولسمشریزو ټاکنو د وخت په رارسېدو سره د جو بایډن د استیضاح کېدو په هکله پلټنې د دې هیواد سیاسي ډګر سخت اغیزمن کړي دي.

# لیبیا کې د کښتۍ ډوبېدو له کبله ۶۱ تنه مړه شوي

د کډوالۍ نړیوال سازمان ویلي چې د لیبیا په ساحل کې د کډوالو یوه کښتۍ ډوبه شوې چې لږ تر لږه ۶۱ تنه پکې مړه شوي او ۲۵ نور ژوندي ژغورل شوي دي. د لیبیا لپاره د آی او ایم دفتر په اعلامیې کې



ویل شوي چې په سمندر کې د څپو د لوړوالي له کبله دا کښتۍ چې ۸۶ تنه پکې سپاره وو، چپه شوې ده. په اعلامیې کې د ژوندیو ژغورل شویو کډوالو له قوله ویل شوي چې دا کښتۍ د لیبیا په شمال لویدیځ ساحل کې ډوبه شوې. د کډوالو دې نړیوالې ادارې ویلي چې ډېر ډوب شوي میرمنې او ماشومان وو چې د نایجیریا، ګامبیا او نورو افریقایي هیوادونو اتباع وو.

# د اسرائیلو پوځ د خپلو ۳ بندیانو د وژنې بشپړ مسئولیت پر غاړه لري

د ګڼو اسرائیلي رسنیو د راپورونو له مخې، د اسرائیلو لوی درستیز هرزي حلوي د دسمبر د ۱۶مې نېټې په شپه په یوه وینا کې وویل، چې د اسرائیلو دفاعي ځواکونه د ۳ اسرائیلي بندیانو د غلطې وژنې بشپړ مسئولیت پر غاړه لري. حلوي وویل، ((دا یوه غمجنه تېروتنه ده)) او د اسرائیلي پوځ د جګړې له اصولو څخه سرغړونه ده.د اسرائیلو پوځ د روانې میاشتې په ۱۵مه نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي ، چې د اسرائیلو پوځ د غزې ټرانګې په شمال کې د جګړې پر مهال په غلطۍ سره ۳ تنه اسرائیلي بندیان په ډزو ووژل. د دغو ۳ وژل شویو کسانو هویتونه تایید شوي دي.